مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه سمسور ودان

۲۰۲۶/۰۷/۰۱

# ژغورونکي الماس



که تصویر زوم کړئ نو د مېرمنې په غاړې کې به د الماسو یوه لویه بېلګه ووینئ!

دا د ۲۵۴ قیراطو (جوبلی هیرا) ده، چې د جسامت او وزن له امله د کوه نور له الماسو هم دوه چنده زیاته ده.
دا مېرمنه (مهر بایی ټاټا) ده چې د جمشید جي ټاټا د مشر زوی (دوراب جي ټاټا) مېرمنه وه.

په ۱۹۲۴م کال کې چې (کساد بازاري) وه او ټاټا کمپنۍ (TISCO) خپلو کارکوونکو ته هم د معاش ورکولو پیسې نه لرې، نو (مهربایي) یاد (قیمتی جوبلی ډائمنډ) الماس د یو کروړ روپیو په بدل کې امپیریل بانک سره امانت کېښود، چې کارمندانو ته تنخوا ورکړي او کمپنۍ بنده نشي.

کمپنۍ وچلېده او په ټاټا خاندان یو ځل بیا ښې ورځې راغلې، خو په دې وخت کې (مهر بایي) د وینې سرطان له امله مړه شوه. خاوند یې (دوراب جي ټاټا) یاد الماس ختم کړل او په هغو پیسو یې هندوستان کې د سرطان ناروغانو ته ستر روغتون (ټاټا میموریل کینسر ریسرچ فاؤنډیشن) جوړ کړ.

د مینې لپاره جوړ شوی یاد یادګار د انسانیت لپاره ستره ډالۍ ده. ظلم وګورئ چې د خلک د مزدورانو په مرګ جوړ شوی تاج محل د مینې د یادګار په توګه مني، خو له دې تاریخه خبر هم نه دي، چې موږ ته ژوند رابښي.

ژباړه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ